# خدائي خدمتګار تحريک کښې د فضل الرحيم ساقي کردار

**Syed Zafar Ullah Bakhshali***

**ABSTRACT:**

*Khudai Khidmatgar was founded by Bacha Khan and his colleagues. Later on many people joined Khudai Khidmatgar movement and contributed in this movement greatly. In this movement there were many poets and writers. Among them one prominent figure was Fazal Rahim Saqi. First he joined Anjuman Islahi Afaghana and later on he became an active member of Khudai khidmatgar movement. He played his vital role in this movement through his verses and his prose works. In this paper the role of Fazal Rahim saqi as a member of Khdai khidmatgar will be discussed.*

خدائي خدمتګار تحريک د پښتنو يو قامي تحريک او جديد تحريک دے، د دې تحريک په برکت باچا خان او ملګرو يې د پښتنو په سيمه او نوره نړۍ کښې يو ډېر ښه پېچان ورکړو، خدائي خدمتګار تحريک نۀ يواځې سياسي تحريک وو بلکې دې تحريک د سياست او اصلاح او د قام د خدمت سره د پښتو ژبې، صحافت او ادب په ترقۍ کښې هم بنيادي کردار ادا کړے دے، د خدائي خدمتګار تحريک په حقله باچا خان پخپله داسې وايي:

* Ph.D Research Scholar Pashto Academy, University of Peshawar

"مونږ چې د لاهور نه واپس شو نو په اتمانزو کښې
مو لويه جلسه وکړه، زۀ په جلسه کښې راپاڅېدم او خلقو ته

مې ووې چې تاسو خو اودۀ يئ او سړي څۀ کوئ چې
د هندوانو ښځې هم رابېدارې شوې او هغوي سړو سره يو
ځائے د ملک د ازادئ دپاره ملا تړلې ده او جدوجهد کوي.
تاسو خو لږ دې نمرخاتۀ تـه وګورئ څومره لوئے سېلاب
راروان دے او سېلابونه همېشه اودۀ قومونه وړي، پاڅئ
ويښ شئ او ملا وتړئ، تاسو خو وګورئ، پېرنګيان وايي
چې هندوستان مونږ په توره فتح کړے دے، دا زمونږ دے
او مونږ به پرې حکومت کوو او ګټه وټه يې زمونږ ده،
هندوان پېرنګي ته وايي چې تاسې مونږ په زوره نيولي يو،
اوس چې مونږ پوهه شو او متفق شو خپل وطن درنه اخلو، دا
زمونږ وطن دے اوس به پرې مونږ حکومت کوو، تاسې د دې
نه خبر يئ که نه؟ زۀ مو خبروم چې خبر شئ، د هندوانو او
پېرنګيانو په دې جنګ دے چې پېرنګے وايي چې هندوستان
کښې به بادشاهي مونږ کوو او هندوان وايي چې دلته به
بادشاهي مونږ کوو او مسلمانان د غفلت په خوب اودۀ دي،
نو اے پښتنو ورونو زۀ ستاسو نه پوښتنه کوم چې تاسو به
څۀ کوئ، ناست به يئ دواړو ته به دعا کوئ او د غلامۍ او
پټتي توب ژوند به تېروئ. (مونږ چې هلکان وو، غوزان به
مو کول، لويه دائره به مو راښکله او په هغې کښې به مو
غوزان کښېښودل، ګټه بائېلات به د دوو لوبغاړو وو، يو
دربم سړي به دواړو له غوزان راټولولو هغه سړي ته به يې

پتہتے وئیلو، چې چا به غوزان وګټل نو هغه ته به یې دوه غوزان د ګټې ورکول) نو اې پښتنو تاسې ته وایم دا د پټہتي توب ژوند خوښوئ او که تاسو هم ځان د دې وطن مالکان ګڼئ؟ نو پاڅئ او ملا وتړئ او دا خپل ملک خپل کړئ. جلسه په ډېر جوش و خروش ختمه شوه او په پښتنو زما د تقریر ډېر ښۀ اثر وشو". [۱]

په دې باب فخر افغان باچا خان وړاندې داسې لیکي:

"بله شپه بیا راغله او راته یې ووئیل چې مونږ په دې کار ډېر غور او فکر وکړ، مونږ د قوم او ملک د خدمت دپاره د هر قسم تکلیفونو، مصیبتونو او قربانیو ته تیار یو، بیا مونږ کښېناستو او په دې خبره مو غور کولو چې د دې نوي جماعت نوم دې څه وي، زما دا خیال ؤ چې په دې پښتون کښې د خدمت خیال نشته، په دې جماعت مونږ یو داسې نوم کښېږدو چې د پښتنو په دماغ کښې د خدائے دپاره د خدمت خیال پېدا شي، قسم قسم نومونه پېش شول خو زمونږ خوښ نۀ شول. د شپې زما په زړۀ کښې د خدائي خدمتګار نوم راغے چې سبا له دوي راغلل نو ما ورته دا نوم وړاندې کړ، د دوي هم خوښ شو او دعا د خېر پرې وشوه، دې نوم زمونږ په زړونو کښې یو قسم اطمینان پېدا کړو، مونږ پښتانۀ خدائي کار او خدمت هغه کار او خدمت ته وایو چې بې د کومې طمعې، غرض او اجرت نه د خدائے دپاره کوو او خدائے خو خدمت ته ضرورت نۀ لري، د خدائے د مخلوق خدمت د خدائے خدمت دے". [۲]

د خدائي خدمتګار په حقله د باچا خان زوے او د دۀ د سیاست ربښتینے ملګرے خان عبدالولي خان په خپل کتاب کښې د خدائي خدمتګار تحریک په حقله داسې لیکي:

"په کال ۱۹۲۹ء کښې د انډین نېشنل کانګریس سالانه جلسه په لاهور کښې وشوه، دا ځائے چونکې پېښور ته نزدې ؤ، د دې وجې نه کافي زلمي او د افغان جرګې غړي تماشې له تلي وو. هلته هغوي جلسې ولیدې، جرګې ولیدې، تقریرونه یې واورېدل او هر څۀ پرېږده چې رضاکاران یې ولیدل، چې وردۍ یې اچولې وې او د جلسې ټول انتظام یې کولو او زلمي څۀ چې جینکۍ رضاکارانې یې ولیدې او ډېر زیات متاثره راغلل، ولې چې مونږ ګني د دې جینکو نه هم بې خونده یو څۀ؟ د دې وجې نه باچا خان د دوي لویه جرګه په اتمانزو کښې راغونډه کړله او فېصله وشوه چې د رضاکارانو یو جماعت دې جوړ شي، چې د افغان جرګې سره مرسته کوي، خو ځان له به جدا تنظیم لري او وردي به یې وي. په دا شان د کال ۱۹۲۹ء په اکتوبر کښې د "خدائي خدمتګار" په نوم د یو تنظیم رده کېښودے شوه، اوله خبره چې باچا خان په دې لړ کښې وکړه، هغه دا وه چې دا تحریک نۀ یوه سیاسي ډله ده او نۀ یو سیاسي جماعت دے، بلکې دا د پښتنو یوه وروروليي ده چې هر پښتون پکښې پکار دے چې برخه واخلي".[۳]

خدائي خدمتګار تحریک په پښتنو کښې دومره ژور اثرات وغورځول چې ټول خلق ورته حېران پاتې وو، د خدائي خدمتګارو د خدمت او برداشت په نتیجه کښې که یو خواته انګرېزان وېرېدل نو بل خواته ځوانانو

په دې تحريک کښې شپه او ورځ شموليتونه کول، په دې حقله عبدالاکبر خان اکبر داسې ليکي:

"خدائي خدمتګار تحريک داسې زلمي پېدا کړي وو چې هغوي ته مرګ او سختۍ ته توقې ښکارېدې، په خپل کردار او عمل يې د پېرنګي کبر، غرور داسې مات کړو چې بيا يې سترګې پورته نۀ کړې". ۴

لنډه دا چې خدائي خدمتګار تحريک د پښتنو په سياسي تاريخ کښې يو داسې سياسي تحريک ؤ چې هغه ټول خلق د ځان سره ملګري کړل او د پېرنګي په مقابله کښې يې ودرول، د دې د ټولو نه لويه وجه دا وه چې دا تحريک په عدم تشدد باندې ولاړ ؤ، پرامن تحريک ؤ، که به انګرېزانو په خدائي خدمتګارانو هر قسمه ظلمونه کول نو دوي به برداشت کول. فضل الرحيم ساقي دې مبارزې ته د صبر جنګ وئيلے دے، ځکه يې د دې دورې په ځينو برخو يو سياسي تاريخي کتاب ليکلے چې نوم يې "د صبر جنګ" ورکړے دے. د خدائي خدمتګار تحريک سره د خپلې ملګرتيا په حقله فضل الرحيم ساقي پخپله ليکي:

"زۀ هم په ابتدائي دور کښې خدائي خدمتګار شوے وم، سره وردي مې جلسې جلوس دپاره اغوستله، جلسه کښې به مې نظمونه وئيل او د خپل کلي د خدائي خدمتګارو ليکل لوستل به مې هم کول". ۵

فضل الرحيم ساقي د خدائي خدمتګار تحريک کلک ملګرے پاتې شوے دے او په دې لاره کښې يې د نورو کارونو په څنګ کښې څو ځله جېل ته هم تلے دے. د جېل يوه واقعه داسې ليکي:

"د اختر ورځ وه خو مونږ ټولو قېديانو دومره څۀ پېدا نۀ کړل چې روژه مو پرې ماته کړې وې، اوبۀ وې خو هغه هم يخې وې، دې کښې هغه ملازم بيا راغے په ډوډې يې لاس کښېنود او پۀ اوچت اواز يې ووې کومو دووسانو چې پيپې راوړلې دي او کومو دله ګانو چې بارکونه وينځلي دي، ټول پورته شئ او بيا يې ووينځئ، ښۀ صفا شوي نۀ دي. دغه د اختر مبارکي وه چې پۀ کنځلو راکړې شوه. هغه کسان لاچار وو بيا پاڅېدل او بارک يې دوباره ووينځلو، مونږ خفه زهير پۀ خپلو خپلو بسترو ناست وو چې پۀ دې کښې يو تن پاڅېدو چې وې کټل نو پۀ ډيوډۍ باندې يونين جېک نيم کښو شوے ؤ، هغه راغے او مونږ ته يې حال ووې چې خلقو وکتل نو هر چا وليدله چې جنډه نسکوره وه، دې کښې ملازمانو خبر راوړو چې سپرنټنډنټ او داروغه حکم چند موټر کښې ايبټ اباد ته د اختر خوشحالۍ له روان وو چې موټر پرې واوړېدو. سپرنټنډنټ خو په ټکي مړ دے او داروغه سخت زخمي دے، ګېډه يې شلېدلې ده، قېديانو باندې په رښتيا اختر شو، ډېر خو پکښې د خوشحالۍ نه ګډ شول".[۲]

فضل الرحيم ساقي د شعر و ادب او د جېلونو د سختو تېرولو نه پرته په ځينو عهدو هم کله نا کله پاتې شوے دے، خو په دې لاره کښې يې په ډېر ايماندارۍ کارونه کړي دي، لکه پخپله چې وايي:

"په ۱۹۲۸ء کښې پښتون اخبار بيا جاري شو، په هره لسمه ورځ به چاپ کېدۀ چې په پښتنو کښې د هغۀ نظمونو او مضمونونو نوے روح پوکلو. د خدائي خدمتګار تنظيم د

نوي سره وشو، سرخپوش هم منظم شو او د امداد دپاره د برانچ د تپې، تحصيل، ضلعې جرګې جوړې شوې. زۀ د کلي د سرخپوشو سېکرټري شوم او د جرګې هم، جلسې او جلوسونه وو، مشاعرې وې ما او عبدالمالک استاذ او شاد محمد مېړي به په جلسو او مشاعرو کښې نظمونه وئيل. ستي جان د پړانګو ښۀ شاعر او خدائي خدمتګار ؤ، هغۀ به هم نظمونه جوړول او وئيل به يې خو سبق يې نۀ ؤ وئيلے نو په ليک لوست باندې نۀ پوهېدۀ، بيا زۀ د تپې شبخو هم سېکرټري شوم او د تپې د جرنېل فتح محمد سېکرټري هم شوم او په سرډېرو کښې مو دفتر پرانستو". [۷]

فضل الرحيم ساقي په خدائي خدمتګار تحريک کښې په مختلفو عهدو پاتې شوے دے، په دې حقله ساقي پخپله ليکي:

"۱۹۳۵ء کښې د خدائي خدمتګارو نه پابندي پورته شوې، پارليمنټري بورډونه جوړ شو، اليکشن وشو، د هندوستان په يوولسو صوبو کښې اتو صوبو کښې د کانګرس وزارتونه جوړ شو. په ۱۹۳۸ء کښې د خدائي خدمتګارۍ نوے تنظيم جوړ شو، زۀ د برانچ د جرګې سيکرټري شوم، يوه مياشت پس د تپې د جرګې سيکرټري شوم، شپږ مياشتې پس د تحصيل د جرنېل د سرخپوشو خدائي خدمتګارو د دفتر سيکرټري شوم". [۸]

د پورته حوالو نه ښکاره شوه چې فضل الرحيم ساقي په مختلفو دورو کښې په مختلفو عهدو پاتې شوے چې دا ورنه څرګندېږي چې فضل الرحيم ساقي په يو وخت د سياست په مېدان کښې د تحريک په بېلا بېلو

عهدو پاتې کېدل، قامي شاعري کول، د مشاعرو او جلسو دپاره شعرونه او نظمونه ليکل، د پښتون رسالې دپاره يې وخت په وخت ليکنې هم کړې دي، په خدائي خدمتګار تحريک او په سياست يې نظمونه ليکلي چې دلته به يې د نمونې په توګه وړاندې کړم.

"خدائي خدمتګار

د ښـۀ پـاک ښـکلي ژونـدون د مصـطفٰي(ص) نـه
لــه ډېـر صـبر د مريمــې(رض) د عيسٰــي(ع) نــه
لــه جـرات او بــې بــاکيو د موسٰــی(ع) نــه
لــه بــې لوثــه قربــانيو د يحيٰــی(ع) نــه
لــه ابــوبکر(رض) او عمــر(رض) لــه صـدقه عدلــه
د عثمــان(رض) صــاحب لــه زهــده لــه حيــا نــه
د علــي(رض) لــه ســخاوت او شــجاعته
لــه مضـبوط زړۀ د حســين(رض) د کــربلا نــه
د منصــور د بــې ســاخته اعــلان حــق نــه
د امــام اعظــم د علــم د رڼــا نــه
د خوشــحال ختــک لــه کلکــې ارادې نــه
عملــي جــذبې او پــاکې مينــې ســتا نــه
رالــه جــوړه دې خــدائي خــدمتګاري کــړه
د پښــتون د ســترګو تــور فخــرِ افغانــه
ســتا لمــن او د ســاقي دواړه لاســونه
دي بيــل نـۀ شــي ســوال کــوم د پــاک مــولا نــه"[۹]

فضل الرحيم ساقي د سوال ځواب د سرليک لاندې په يو بل نظم کښې داسې ګويا دے:

"سوال ځواب

انیس سو انیس کښې سرخپوش شوے یمه
هرې جلسې جلوس له تلے یمه

په پکټهنګونو ودرېدلے یمه
په جېلخانو کښې کړېدلے یمه
په کچرو رېړونه ما کړي دي
زما په شان کارونه چا کړي دي؟

درنې مېچنې اوړه کړي دي ما
بېړۍ په جېل کښې ګرځولې دي ما
باټي د دال او ساګ څټلي دي ما
ښېتونه څو ځله خوړلي دي ما

د پښتونخوا داسې ځنګل نشته دے
چې زما هغه ځائے کښې پل نشته دے
چې تقریر کړم په خلقو اور ولګي
جلسه کښې هر طرف ته شور ولګي

سینو کښې زړونه ښور ماښور ولګي
زنده باد چغې لور په لور ولګي
دا تنسته مې خدایه تاله درکړه
د شهادت درجه دې چاله ورکړه

خاوندہ! دا له مرګ پس ژوندون
د خوشحالۍ او د خپل وس ژوندون
ستا په نظر کښې هر نفس ژوندون
د خپل اختیار او د هوس ژوندون

چې هره ورځ یې د اختر ورځ وي
او هره شپه پکښې د قدر شپه وي
دا ښکلې شپه او ورځ دې چاله ورکړه
د شهادت درجه دې چاله ورکړه"[10]

د خدائي خدمتګار تحریک په دوران کښې د قیصه خوانۍ پېښه یوه ډېره خونړۍ پېښه وه چې د انګرېزانو له خوا په پښتنو دومره زیات ظلم وشو چې د انګرېزانو نوے نسل به د خپلو نیکونو په کړنو شرم او خجالت محسوسوي. په دې حقله ساقي داسې لیکي:

"د قیصه خوانۍ د شهیدانو یاد

په لپو څښلي دي ظالم د مظلومانو وینې
قیصه خوانۍ کښې بهېدې د شهیدانو وینې
تئیس اپرېل سن تیس کښې جنګ د ازادۍ ؤ زمونږ
تویې کړې وې د قام دپاره کانګرسیانو وینې
مونږه له سر و ماله تېر یو د وطن په مینه
بهېږي جنګ د ازادۍ کښې د ځوانانو وینې
ټوله دنیا کښې هیڅ یو څیز داسې ارزان نشته دے
لکه ارزانې دي زمونږ د غلامانو وینې
مونږ د عدم تشدد ورسره جنګ کړے دے

ناحقه تويږي کړلي زمونږه ظالمانو وينې
د پرهرونو د ځوانانو تلې چپې د وينو
د کونډو رنډو بهېدلې د چشمانو وينې
په مشين گن سوري اوري زلمي يادېږي زمونږ
وهي تن جوش د ازادۍ د عاشقانو وينې
ماڼۍ به پرېوځي د ظالم سرمايه دار په خپله
چې ورته ډنډ چاپېره شي د مزدورانو وينې
ساقي! دنيا ته کړه ښکاره ظالم انګرېز په ګوته
لکه حسېن تويږي کړه د خپلو ماشومانو وينې"[11]

د خدائي خدمتګار تحريک سره د پښتنو زلمو د زلمي پښتون په نوم يو تنظيم جوړ کړو چې د خدائي خدمتګارو دفاع پرې وکړي، ځکه مسلم ليګيانو به خدائي خدمتګاران تنګول. په دې حقله باچا خان ليکي:

"څه وخت چې زمونږ خلق د مېجر خورشيد د دې ارادې او سکيم نه خبر شول نو هغوي د خدائي خدمتګارو د حفاظت دپاره نوے جماعت د غني په مشرۍ کښې جوړ کړو چې نوم يې "زلمے پښتون" ؤ او په دې کښې هغه ځوانان شريک شول چې د چا عقيده په عدم تشدد باندې نۀ وه، ولې چې هغوي په دې غرض دغه جماعت جوړ کړے وو چې خدائي خدمتګار خو تشدد نۀ کوي، د دوي عقيده په عدم تشدد ده، د دوي خلاف د تشدد سازشونه کېږي نو دوي اعلان وکړو چې دا جماعت صرف د خدائي خدمتګارو د حفاظت دے، د دې په مقابله کښې مسلم ليګو د غازي پښتون په نوم يو جماعت جوړ کړو، لېکن پښتون قوم زلمي

پښتون پسې وو او مسلم لیګ کښې چې کوم خانان د پېرنګیان تالي څټ وو، هغوي په دې نتیجه ورسېدل چې قوم د خدائي خدمتګارو سره دے نو که د زلمي پښتون او غازي پښتون جګړه جوړه شي نو مونږ مسلم لیګو کښې به یو کس هم ژوندے پاتې نۀ شي نو په دې وجه د مېجر خورشید هغه سکیم کامیاب نۀ شو".[۱۲]

د زلمي پښتون په جوړېدو کښې د غني خان سره فضل الرحیم ساقي ملګرے ؤ، په دې کار کښې یې د غني سره دورې کړې او د دۀ سره یې زلمے پښتون په ډېر لږ وخت کښې منظم کړے. په دې حقله د نورو خلقو د حوالو په ځائے پخپله د فضل الرحیم ساقي حواله رااخلم چې خبره په ښه ډول روښانه شي.

"په ۴۷-۱۹۴۶ء کښې چې مسلم لیګ زور واخستو او دا ویره پېدا شوه چې کۀ خدائي خدمتګار دغسې په اهنسا (مینه محبت) کار بند وي نو کېدے شي چې مسلم لیګ یې کور کور کښې حلال کړي. د باچا خان زوي عبدالغني خان ماته ووې چې د زلمي پښتون په نامه یو تحریک شروع کوو چې په وسله پُر وي، ما وې ښه، دغه وخت کښې دې د سنټرل اسمبلۍ ممبر هم ؤ. روان شو، یو ملګرے دوه مو نور هم ځان سره کړل او وړومبۍ بسم الله مو د بنو نه درسته کړه. ما ته خدائي خدمتګار او د هغوي کلي معلوم وو او د غني خان دپاره دغه سرټیفیکېټ کافي ؤ چې د باچا خان مشر زوے ؤ. مشرانو خدائي خدمتګارو به مانه پته پوښتنه وکړه چې مونږ خو هم دا ضرورت محسوس

کوو خو د باچا خان به څه جواب کوو؟ دغه ذمه واري ما واخسته او په مخه یې خپلو کشرانو ته د وردۍ لستوڼي تور کړل او ټوپکې یې ور په اوږه کړې. بنو کښې ډېره ښه کامیابه دوره وشوه، بیا کوهاټ ته راغلو، محمد اسلم خان سالار مو ځان سره کړو او دلته هم د ټوپکو تماچو نمائش شروع شو. د پېښور زلمي چې خبر شو نو دوي خو د خدایه غوښته خو باچا خان د هر چا په خولهٔ کښې لومه وه چې هر کله باچا خان هم پرې خاموشي اختیار کړه نو خلق زړور شو او یو شو چې پېښور کښې هم د خدائي خدمتګارو د کشرانو او د هغوي د حامیانو ټوپکې په اوږه وې او یو دوره مو د مردان د ضلعې وکړه، هغوي هسې هم د نورو ضلعو د کار نه خبر شوي وو، یوه هفته کښې دننه دننه ټول په وسله شول، اوس د باچا خان ټولې جلسې د وسله دارو زلمو په سېورې کښې کېدې".[۱۳]

اوس د فضل الرحیم ساقي د خبرو نه دا خبره په ښه توګه څرګنده شوه چې نوموړي د خدائي خدمتګار د تحریک په دوران کښې د زلمي پښتون په فعالیت کښې ښه پوره پوره برخه اخیستې ده چې د دې نه دا څرګندېږي چې فضل الرحیم ساقي یو ډېر کلک او ډېر په ژوره توګه باشعوره سیاسي کارکن او مبارز پاتې شوے دے او په دې وخت کښې یې نهٔ یوائې سیاست کړے دے، بلکې د سیاست سره سره یې د خپل قلم مبارزه هم په ښه ایماندارۍ ترسره کړې ده.

# حوالې

[۱] خان، عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، ۳۵۴، ۳۵۵ مخونه.
[۲] همدغه اثر، ۳۵۲ مخ.
[۳] خان، عبدالولي، باچا خان او خدائي خدمتګاري، لومړے ټوک، ۹۲، ۹۳ مخونه.
[۴] اکبر، عبدالاکبر خان، د برصغیر پاک و هند په آزادۍ کښې د پښتنو برخه، اګست ۲۰۰۹ء، یونیورسټي پبلشرز پېښور، ۳۱۴ مخ.
[۵] ساقي، فضل الرحیم، خدائي خدمتګار، ۲۰۱۲ء، امن پرنټنګ پرېس پېښور، ۶۲ مخ.
[۶] ساقي، فضل الرحیم، خدائي خدمتګار، ۸۴ مخ.
[۷] همدغه اثر، ۸۷ مخ.
[۸] ساقي، فضل الرحیم، ژوندون، ۱۹۷۹ء، ۲۲ مخ.
[۹] ساقي، فضل الرحیم، ډک جام، ۱۹۵۷ء، د رهبر د اشاعت ځانګه، ۲ مخ.
[۱۰] همدغه اثر، ۱۹ مخ.
[۱۱] همدغه اثر، ۱۰۴ مخ.
[۱۲] خان، عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، ۲۸۷، ۲۸۸ مخونه.
[۱۳] ساقي، فضل الرحیم، خدائي خدمتګار، ۲۰۱۲ء، باچا خان ریسرچ سنټر، ۱۸۳، ۱۸۴ مخونه.